PROPERTY OF ACKU

هفته نامه

اتحاد اسلامی

بیانگر آرمان اتحاد اسلامي افغانستان

شماره مسلسل «۲٤٨» سال هفتم شماره «٤٩» دوشنبه
۱۹ حوت ۱۳۷۰ هـ ق مطابق «۷» رمضان ۱٤۱۲ هـ ق
مطابق ۹ مارچ ۱۹۹۲ ميلادي

مجاهدينو دافغانستان شمال لوېه لاره دبغلان ولايت په دوشي ولسوالي کي دترافيکو په مخ بنده کړي ده

د بغلان ولايت نه يوي جهادي منبع (ميډيا) ته رپوټ ورکړي چي مجاهدينو د يوبريد په ترځ کي چي دبغلان ولايت په جنوب «دوشي ولسوالي» کي بې دکابل رژيم د لويې لارې دخارني په پوسته باندي د فبرورۍ په (۲۸) نېټه ترسره کړ، د لارې د څارني دري ستراتيژيک سنګرونه فتح کړي ،اوسخته مرګ ژوبله ئي پکي کړيده .

خبرځاي زياتوي چي مجاهدينو دنوموړي بريالي بريد په ترځ کي دافغانستان شمالي لويه لاره : سالنګ ته نژدي د دوشي په ولسوالي کي د ترافيکو پرمخ ترلي اوپاتي مليشه ئي په تيښته مجبور کړيدي .

مجاهدينو دفتح شويو پوستو څخه دوه ميله هاوان ، يوميل پيکا ، (۱٦) ميله کلاشنکوفونه او زيات مقدار نظامي اولوژستيکي مواد ولجه کړي دي .

به اثر حمله مجاهدين بر لواي ۷۸ رژيم کابل دو ديپوي مهمات به آتش کشيده شد

به اساس گزارشهاي واصله درعمليات مؤفقانه مجاهدين که شب چهارم مارچ برلواي مليشه بنام رحيم پهلوان انجام گرفت (۵) پايه راکت ار ، پي ، جي ۷ ، يک پايه زيو ، يک ميل هاوان غرني ، و ۵ ميل سلاح خفيف به غنيمت گرفته شد .

به قرارگزارش ، دو ديپوي مهمات ، دوعراده تانک هفتاد تي ، پي دوعراده توپ دي ، سي ، يک ميل توپ ۷٦ ملي متري صحراي ودو موتر زيل ۱۳ - به آتش کشيده شده است .

گزارش مي افزايد ، (۵۰) نفر ازافراد لواي مذکور با ۵۳ ميل کلاشينکوف به اسارت مجاهدين درآمده اند .

طبق گزارش ، تلفات دقيق دشمن معلوم نيست ، اما ازمجاهدين ۳ نفر شهيد وپنج نفر مجروح شده اند .

پوهاند سياف د بې سيم په ذريعه دخپل مطبوعاتي کنفرانس په ترځ کې :

له کومې ورځې راهيسې چې ما دملګرو ملتونو دپلان مخالفت کړی په ما هر ډول مرستې بندې شويدي

> دعبوري حکومت قانوني موده پای ته رسيدلې او اوس يې يو اځې قالب پاتې ده

> ايران دې زمونږ په کورنيو چارو کې له لاس وهنې څخه ځان وژغوري

د البنيان خبري آژانس

د افغانستان په هکله دايران د دوه مخي پاليسي ،دموقت حکومت دسرنوشت دجلال آباد، طورخم دلويي لارې دپرانستو لپاره د ځينو قبايلي سوداګرانو دلاريون دظاهرشاه سره دځينوخلکو د ليدنو کتنو اوهم د يو لړنورو سياسي انکشافاتو په رابطه دپرمه ورځ په هجرت کلي کي دپاکستان د(دي نيوز، جنګ)او د لندن څخه د خپريدونکي عربي ورځپاڼي (الحياة) خبريالانو دبي سيم په ذريعه د افغانستان د اسلامي اتحاد د امير پوهاند سياف سره چي فعلاً په داخل کي دي يوه مطبوعاتي مرکه کړي دکومي په اساس چي د البنيان د خبري آژانس دعربي اوجهادي مطبوعاتو مسئول ولي الله « سليم» له هغي څخه يو رپوټ برابر کړي چي د اتحاد اسلامي داونيزي قدرمنو لوستونکوته وړاندي کيږي:

پوښتنه : دروانو حالاتو په نظرکي نيولو سره د افغانستان په رابطه دايران بهرني سياست څرنګه څيړئ ؟

ځواب : مونږ دايران په تعامل اوسابقي باندي ملاحظه لرو ، ايران دکابل درژيم سره نژدي اړيکي لري اوځمونږ په کورنيو چاروکي لاس وهنه کوي . ايران ته ځمونږ مشوره داده چي د مجاهدينو داهدافو ترا‌ړخه دي ودريږي اود افغانستان سلامتيا او امنيت دي په نظر کي ونيسي اوله هري هغي لاس وهني څخه دي ځان وژغوري د کومي په اساس چي مونږ ته پخپل کورکي ستونزي اوخنډونه را ولاړيږي .

پوښتنه : تيره مياشت په تهران کي د ايران ، تاجکستان ، جمعيت اسلامي اوافغاني شيعه ګروپونو ترمينځ يوه فرهنګي اتحاديه جوړه شوه ترڅو فارسي ژبي ته خدمت وکړي ستاسو نظر پدې هکله څه دي ؟

ځواب : مونږ مسلمانان يو اوپه اسلام کي ژبه ، سمت ، مليت اورنګ کوم ارزښت نلري ، هرڅوک چي لااله الاالله محمدرسول الله وايي هغه ځمونږ وروردی . ولي ددې ترڅنګ بايد ووايم هره هغه خبره اوموضوع چي دښمن ورڅخه ناوړه استفاده کوي اويا ورته دپروپاګند زمينه برابريږي مجاهدين دي ورڅخه ځان وساتي ، اوهرتنظيم اوډله چي داسي تړونونه لاسليک کړي بايد دنورومطرحو تنظيمونو او افرادومشوره اوملاتړله ځان سره ولري .

پوښتنه :دکله چي دتني په کودتاکي حزب اسلامي دهغه ملاتړ وکړ نو تاسو ورسره خپل مخالفت اعلان کړ ، خو اوس چي په شمال کي مليشه ؤ د نجيب په ضد بغاوت کړي اوجمعيت اسلامي يې ترڅنګ ولاړدي تاسو ولي چپ ياستئ ؟

ځواب : زه پخوا هم پدې نظروم او اوس هم يم چي ددښمن خپلمنځي اختلاف دمجاهدينو په خيردي ، ولي دابه معقول کارنه وي چي له نجيب سره مخالفت اوذاتي دښمني دغو کمونيستانو اومليشو د برائت سبب وګرځي .

په شمال کي بغاوت دکمونيستانو دخپلمنځي اختلاف په اساس راولاړشوي دي نو لازمه ده چي دهغوي سره دتعامل په هکله له پوره احتياط څخه کار واخيستل شي .

پوښتنه : داچي ځيني قبايلي سوداګر غواړي چي د جلال اباد طورخم ترانزيتي لاري دخلاصون لپاره دجلال اباد په لور يو سوله ايز لاريون ترسره کړي نو آيا تاسويه دي کارته اجازه ورکړئ ؟

ځواب : د طورخم دلاري معامله دننګرهاردقوماندانانو د شوري پوري اړه لري ، اوهغوي به پدې هکله تصميم نيسي ، ولي زه فکر کوم هر هغه اقدام چي له خبرو او مفاهمي پرته ترسره کيږي نه تنها چي مقصد به تري حاصل نشي بلکي داسي فضا به رامينځ ته کړي چي دبوي خوا لپاره به هم ګټوره نه وي .

پوښتنه : څه فکرکوئ چي دپاکستان دعسکري استخباراتو د نوي رئيس ډګرجنرال جاويد ناصر په مقرري سره به د افغانستان په هکله دپاکستان په سياست کي کوم بدلون رامينځ ته شي ؟

دکندهار په هوائي ډګر باندې دمجاهدينو متحدانه بريدونه

دقندهار ولايت څخه (ميډيا) ته رپوټ ورکړشوي چي مجاهدينو په متحدانه توګه دمارچ په (٤) نيټه د هوائي ډګر پرپوستو باندي بريدونه پيل کړل ، چي په نتيجه کي دهوائي ډګر په جنوب ختيز د « سپيرسنګ » په نامه يوه پوسته فتح اود رژيم له قواو څخه (۲۵) تنه مليشه مړه اوټپيان شوي دي .

درپوټ مطابق پدې جګړه کي مجاهدينو درژيم له قواو نه (۳) عرادي ټانکونه داورلمبه ګرځولي او يوعراده فعال ټانک يې ولجه کړي .

درپوټ په حواله دمجاهدينو څخه پدې جګړه کي (۵) تنه شهيدان او (۱۷) تنه نور ټپيان شويدي اوجګړه په تندۍ سره روانه ده .

دمجاهدينو ترمينځ اتحاد اويووالی کولای شي دملګرو ملتونو دسيسې شنډې کړي

«الجنيراحمدشاه»

دجمعي په ورځ چې د مارچ دمياشتي له شپږمي نيټې سره برابره وه د حضرت ذبير بن عوام «رض» په مدرسه کي يوه درنه او شانداره غونډه جوړه شوي وه .

غونډه دقرآن عظيم الشأن دځومبارکو ايتونو په تلاوت سره پيل وريسي د افغانستان د اسلامي اتحاد مرستيال محترم الجنيراحمدشاه دغونډي برخه والو ته دخپلو خبرو په ترځ کي دملګرو ملتونو پنځه فقره ايزه طرحه رد کړه وي ويل : امريکه غواړي په افغانستان کي دمجاهدينو په لاس دتوجه اسلامي حکومت دجوړيدو مخه ونيسي .

الجنير احمدشاه د الجزاير د مسلمانانو اوسني حالت ته په اشاري سره دمسلمانانو ترمينځ په يووالي ټينګار وکړ او زياته يې کړه : دمجاهدينو ترمينځ اتحاد او يووالي کولاي شي

دپکتيا په ولايت کښې دکابل درژيم «٤۷» تنه عسکر مجاهدينوته تسليم شول

دميډيا دخبري آژانس دريوټ له مخي تيرو دوهفتو کي دکابل رژيم دګرديز دکلابند شوي ښار دامنيتي قواؤ څخه (٤۷) تنه وسله والو عسکرو او يوشمير نورو بې وسلي عسکرو دکمونيست رژيم سره دمخالفت په وجه دګرديز په غرب دزرمت ولسوالي کي مجاهدينو مرکزونو ته پناه وړي . کوم چي اکثره دهلمند اوکندهار ولايتونو اوسيدونکي دي .

دخبر ځاي په قول دګرديز نه دعسکرو راوتل دوام لري خو تر اوسه په ګرديز ښار باندي ديختي له کبله دمجاهدينو دکومي لوي حملي پروګرام نشته ولي مجاهدينو ددري خواؤ څخه دګرديز ښار دقواو کلابندي ته ادامه ورکړي ده اوکله کله سره متقابله ډزي کيږي .

يک ديپلومات اسرائيلي درترکيه به اثر انفجار بمبی به قتل رسيد

انقره – ۱۸ حوت

درانقره پايتخت ترکيه بمبي که دريک موتر جابجا شده بود منفجر گرديد وطي آن يک مقام امنيتي سفارت اسرائيل کشته شد ودوتن ديگر زخمي گرديدند .

به اساس گزارش راديو بي ، بي ، سي گروهي که خودرا سازمان انتقام اسلامي مي نامند مسئوليت اين بمب گذاري را به عهده گرفته است .

ازسوي ديگر راديو اسرائيل ميگويد يک تنظيم اسلامي بنام جهاد اسلامي مسئوليت کارگذاشتن اين بمب رابرعهده گرفته است . اما خبر نگار بي ، بي ، سي درترکيه مينويسد که ديپلوماتهاي غربي نگران حملات مشابهي هستند ونا آرامي عمومي درترکيه رويه افزايش است .

تورگوت اوزوال نسبت برحملات ارمنيها عليه آذربايجان هشدار داد

انقره – ۱۸ حوت

تورگوت اوزال رئيس جمهور ترکيه تهديد کرده است که اگر ارمنيها همچنين به حملات خود عليه آذربها ادامه دهند آنکشور تنها راه ارمنستان را به بحيره سياه که ازطريق ترکيه است مسدود خواهد ساخت .

اوگفت وقت آن رسيده است که ارمنستان متوجه شود که مبارزه براي گرفتن ناگور نو قره باغ راکتار گذارد . تورگوت اوزال درمصاحبه اي باروز نامه« تايمز مالي » لندن گفت مردم ترکيه بيش ازپيش فکر ميکنند که

دراثر برف کوچ هشت تن ازمجاهدين به شهادت رسيدند

راپوررسيده ازولايت بدخشان به (ميديا) حاکيست که يک تعداد ازمجاهدين که بتاريخ ٤ مارچ غرض اجراي عمليات بالاي پوسته هاي شهر فيض آباد درحرکت بودند ۸ تن آنان بر اثر برف کوچ درمسير راه شهيد شده اند .

طبق يک خبر ديگر ، مجاهدين شب ۵ مارچ دردشت قرق درحومه، مرکز بدخشان بريک پوسته رژيم عمليات نمودند که درنتيجه پوسته مذکور فتح

درکابل عده ازصاحب منصبان بدستور نجيب به قتل رسيده اند

بگزارش خبرنگار اعزامي (ميديا) ازکابل ، نجيب دستور قتل عده، ازصاحب منصبان قواي مسلح رادرکابل صادر کرده وتاکنون چهار نفر قرباني اين دستورات وي درنقاط مختلف شهر شده اند .

گزارش حاکيست ، دگروال شيرگل که بتاريخ چهارم فبروري دشهرکابل ترور شد ونجيب نيز بلافاصله بخاطر مخفي

افراد وزارت خاد حکومت کابل اکنون به چپاول مغازه هاي بزرگ وگروگان گيري سرمايداران درشهردست ميزنند

گزارش خبرنگار اعزامي (ميديا) ازکابل حاکيست ، افراد وزارت امنيت دولتي درکابل که از حاميان مهم حکومت دست نشانده محسوب ميشوند ، تعدادي ازمغازه هاي بزرگ را درشهر کابل به تاراج برده وعده، ازسرمايداران را بغرض حصول پول به گروگان گرفته اند .

گزارش مشعر است ، اخيراً حاجي چمن ازساکنين پنجشير ويکي ازتاجران سرشناس شهر کابل ازسوي افراد خاد گروگان گرفته شده وبا تهديد به مرگ ، ازوابستگان وي پس ازحصول مبلغ سه صد لک افغاني ، مجدداً رهاشده است .

همچنان يک عضو خانواده، سرمايداري بنام حاجي ولي توسط افراد مذکور اختطاف وازخانواده وي تقاضا، پول وافر شده است که گفته ميشود تاکنون درقيد اختطاف کنندگان قراردارد .

بقرارگزارش خبرنگار ما خاديست ها اخيراً فروشگاه حميد دروه افغانان کابل را درساعات شب باز کرده علاوه ازاجناس قيمتي داخل مغازه مبلغ پنجاه لک افغاني پول موجود درمغازه را به يغما برده اند .

همچنان طي ماه گذشته افغان مارکيت درنزديکي سپاهي گمنام درمرکز شهر مورد دستبرد خاديستان قرارگرفته همه اجناس موجود درآن به غارت رفته است.

بگزارش خبرنگار اعزامي (ميديا) غارت اموال مغازه ها ودکانهاي کوچک که درگذشته امري عادي بوده است ، اما چپاول فروشگاه هاي بزرگ واختطاف سرمايداران ازيک ونيم ماه است آغاز شده خوف وهراس فراواني درميان تاجران وفروشندگان عمده ايجاد کرده هرکدام درصدد خروج سرمايه هاي شان از کشور اند .

مجاهدينو دتاشقرغان په سيمه کښې ددښمن ۳ پوستنې تخريب کړې

مجاهدينو دمارچ په ۲ نيټه دکابل حيرتان په لويه لاره دتاشقرغان تنګي کي درژيم په اکمالاتي قطار باندي ديو بريد په ترځ کي يوعراده ټانک داور لمبه کړ(٦) عسکري بې وژلي اوقطار بې په شاه تمبولي دي .

ريوټ زياتوي چي مجاهدينو په دغه نيټه دنوموړي لارې ۲ امنيتي پوستي په دغه بريد کي تخريب کړي او يوعراده نظامي موټريې په ولجه نيولي اولاره يې دترافيکو پر مخ بنده کړيده

درپوټ مطابق مجاهدينو په دغه بريد کي کوم زيان نه دي اوړيدلي .

دغه شان ريوټ زياتوي چي مجاهدينو دمارچ په اوله نيټه په يو بريد کي

هفته نامه
اتحاد اسلامی
بیانگر آرمان اتحاد اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز : اتحاد اسلامی افغانستان
سال تأسیس : عقرب ـ ۱۳٦٤
ناشر : بخش فرهنگی ریاست دعوت وارشاد

سرمقاله

رمضان د قرآن مجيد د نزول مياشت

الله تعالی د سوره بقره په (۱۸۵) آيت کښې فرمائي :

« رمضان هغه مياشت ده چې په هغې کښې قرآن نازل کړی شو چې د انسانانو لپاره له سره تر پايه هدايت دی او داسې څرګندې لارښوونې په کښې دي چې د سمې لارې ښوونکی اوبيوله بله دحق او باطل بيلوونکی دی » .

د هدايت دغه ستر پيغام د انساني تاريخ په داسې دورکښې نازل شو چې ټوله دنيا د شرك ، كفر ، ظلم او جهل په دورو پټه وه ، د انساني کرامت او شرافت مانۍ په کنډوالې بدله شوې وه . انسانان له حق څخه په فرسخونو ليرې شوي وو ، د توحيد روښانه ، حقه او معقوله لاره يې پريښې وه ، دداسې شيانو د بندګۍ او غلامۍ کړۍ يې په غاړوکښې اچولې وې چې هغوته چاته ګټه رسولای شوه نه زيان ، نه يې د کائناتو په پيدايښت کښې څه دخل اولاس وو اونه يې د انسان په ژوند اومرګ کښې . نه د خدائی د صفتونو خاوندان وو اونه يې داعقام درلود . خو ظلوم او جهول ، لارورکي اوګمراه انسان ورته عبادت اوبندګي کوله او د الله جل جلاله بندګي يې پريښې وه چې هغه په ريښتيا سره معبود برحق دی ، هيڅوك ورسره په ذات ، صفاتو ، حقوقو او اختياراتو کښې شريك نشته ، د انسان اوټولو کائناتو خالق اومالك دی ، د مرګ او ژوند واکمن دی د خير اوشر ، عزت او ذلت کليګانې دهغه په لاس کښې دي ، هرشی اوهرڅوك همغه ته محتاج دی خو هغه هيچاته محتاج ندی ، هرڅه فاني دي خو يوازې دهغه ذات باقي ، تل ترتله او لازوال دی .

قرآن پداسې حالاتوکښې نازل شو چې ظالمانو ، ششتمنو او زور ورو انسانانو کمزوري خلك د ځان بندګان ګرځولي وو ، دهغوی حريت او کرامت يې تر پښو لاندې کړی ؤ ، دهغوی مشروع او مسلم حقوق يې غصبول ، دهغوی وينې يې څښلې اولنډه داچې هغوی ته د ژوند په حق قايل نه وو ، د نسب ، جنس ، رنګ اوژبې د امتيازاتو لوتوپيرونو بازارګرم ؤ اود همدې تعصبونو لامله هرې خواته ددښمنيو لمبې بلې وې اومستضعفان پکښې سوځيدل ، نه د قانون په نوم څه قيود وو اونه د اخلاقو په نوم څه حدود . دهرچاچې هرڅه له لاسه پوره وو اوزوره يې غوښتل هماغسې يې کول .

دغې تورې تيارې اودغې دردونکې وضعې په پيهم پيهم دوام درلود ترڅو چې نور راغی ، د تيارو زړه يې څيرې کړ انسان ته يې هدايت او لارښوونه وکړه ، د توحيد په لورې لارښوونه ، د بقا او ريښتينولۍ په لورې لارښوونه ، ددې حقيقت په لورې لارښوونه چې د انسان اوکائناتو خالق ، مالك ، معبود اوحاکم يوازې الله دی ، د خدای « ج » پدې ځمکه کښې نه انسان پخپل سراو خپلواك دی نه د بل چا بنده ، نه بل څوك د انسان لپاره د اطاعت ، بندګۍ اوعبادت وړدی ، د ژوند مهلت چې انسان ته پکښې اختيارات سپارل شوي دي په واقع کښې د الهی ازموينې وګړۍ او ددې ازموينې د مودې له پای ته رسولو وروسته د ټولو انسانانو ورتګ د خدای « ج » خواته دی ، خدای « ج » به د حساب کتاب نه وروسته په ازموينه کښې بريالیو انسانانوته مکافات اوناکامانو ته مجازات ورکوي .

ددې حقيقت په لورې لارښوونه چې که انسان غواړي په نړۍ کښې دعزت ، سرلوړۍ او امن ژوند وکړي اوپه آخرت کښې د نعمتونو کور يعنې جنت ته داخل شي نو بايد له يوې خوا دخپل ژوند نظام د خدای « ج » د لارښوونو پربنسټ ودروي اوله بلې خوانه د نړۍ د اصلاح کولو لپاره هلې ځلې وکړي .

ددغو لارښوونو عملي کول او تطبيقول په هغو شرايطو اوحالاتو کښې چې قرآن پکښې نازل شوی ؤ څه اسانه خبره نه وه ، کوم حقائق او ريښتينولي چې قرآن دهغو په لورې بلنه ورکړه خلکوته بيخي نا اشنا شيان ښکاريدل يوازې نا اشناڅه چې دهغو منل ورباندې ګران تماميدل اوپرکومو افکارو اوعملونو باندې چې قرآن د بطلان کرښه راښکله دهغو مينې دخلکو په زړونو کښې داسې ځای نيولی ؤ لکه وينه په رګونو کښې نو ښکاره خبره ده چې د قرآن ددعوت او بلنې په مخ کښې به د سرکشو انسانانو لخوا خنډونه ايجاديدل او دقرآن دراوړونکي پيغمبر ﷺ اودهغه دملګرو پرضد به ددښمنۍ طوفان برپاکيده چې په واقع کښې همداسې وشول ، ددعوت په مکی دور کښې چې ديارلس کاله وخت يې ونيوه ظالمو مشرکانو چې په هيڅ شان ديته نه حاضريدل چې دهغوی د خودسريو ، ظلمونو ، کبر او غرورمخه ونيول شي اود سرداری اوبادارۍ تخريبي ټول شي خپل ټول طاقت په کار واچوه چې د قرآن دعوت خپورنشي اوړنا يې مړه شي لکه چې فرمائي : « دوی دخولې په پوکيو سره دالله دړنا سره کول غواړي اود الله فيصله داده چې خپله رڼا په بشپړه توګه خوره کړي که دکافرانو داکارهرڅومره بد ايسي . الله هغه ذات دی چې خپل پيغمبر يې له هدايت اوحق دين سره ليږلی دی ترڅو چې هغه په نوروټولو اديانو يعنې ژوند نيو نظامونو باندې برلاسی کړي که هرڅومره دمشرکانو داکار بدبيني هم » .

هو : لکه څنګه چې دخدای فيصله ده ددښمنانو دهر راز دښمنۍ اوخنډونو ايجادولو سره سره قرآني دعوت ورځ په ورځ د انسانانو په زړونو کښې ځانته لاره پرانستله اودخپل نور په زړيتو پلوشو سره يې دجهالت تيارې څيرولې اودخپلو پيروانو په شميرکښې يې پرله پسې زياتوالي راوست خوهرڅومره چې دې خواته دقرآني دعوت کارګړندی کيده هاخوانه د شيطان د پيروانو دعناد ، تعصب اودښمنۍ اور لازيات تاوجن کيده او بيوزلي اومظلوم مسلمانان يې د توحيد د عقيدې منلو په جرم دوحشيانه ظلمونو په ژرنده اوړه کول چې پدې لړکښې د بلال ، صهيب ، عمار ، خباب اونورو بيوسو مؤمنانو مصيبتونه د هيريدلو وړندي .

نه يوازې په مکه اوقريشو په قبيله کښې بلکې په شاوخوا سيموکښې چې کومو خلکو د زاړه جاهلي نظام بقا غوښتله هغوی د قرآني دعوت دغلي کولو لپاره خپل

پاتی په دریم مخ کی

تلاش ها ونقشه های ملل متحد به کارگردانی بینن سیوان غیر عملی است

قبل از بر رسي وارزيابي محاكم وتصاويب همگاني ملل متحدكه ناشي ازآراء ونظريات كفري وطاغوتي راجع به قضاياي بين الدول اعم ازممالك اسلامي وغير اسلامي است ضرورت مي افتد تا ماهيت ملل متحد وتساهم كشورهاي عضو دايمي اين خانه، جنگ افروز وفتنه انگيز را باعزايم شوم ومؤامرات خصمانه اش دربرابر عالم اسلام وسرزمين هاي اسلامي شناسايي نمائيم .

ملل متحد بزرگترين پايگاه طاغوتي وشرارت پيشه، چند كشور متنفذ ميباشد كه بظاهر چهره، حق بجانب گرفته وخودرا حلال قضاياي دول ملل قلمداد ميكند وبمجرد شنيدن نام وعنوان اين مؤسسه ، جهانيان را بدون دغدغه به اغواميكشاند گوياكه اين موسسه با قيافه وسمبول خاص يگانه مرجع قانوني حل مسايل جهاني وقضايايي ازقبيل صلح وجنگ ميباشد درحاليكه باديدواقعي حقيقت چيز ديگري است . ملل متحد جز نام واهي وادعاي كاذب سياستمداران وسردمداران كفر واستبداد بشمول كشورهاي استعماري ابداً صبغه، حقيقي وقانوني نداشته وندارد . هرگاه دراطراف اين مؤسسه ، آزادانه ومنصفانه بحث نمائيم ملل متحد را چنين تعريف ميكنيم :

ملل متحد عبارت ازيك سلسله فيصله ها وتصاويب ظالمانه، يك عده كشورهاي عضو دايمي اين سازمان بوده كه بركشورهاي ضعيف واقليت هاي غير متسلك وجهان اسلام تحميل مي گردد .

وبايه عباره، ديگر ملل متحد عبارت ازمجمع چند ابركشورهاي استعماري درواقع گردانده، سياست هاي دوبلاك نظامي ناتو وورشو است كه جهت حفظ منافع استكباري استعماريون به راه افتاده وبرسرنوشت ملت ها ودولت ها اصدار حكم وفيصله مينمايند . بنابر هردو تعبير ، هرگاه پيرامون هسته، مركزي سازمان ملل نظر اندازي شود بدون شك وترديد اعضاي دايمي اين سازمان را امريكا ، روس ، چين ، انگلستان وفرانسه تشكيل ميدهد وبدون حضور نمايندگان اين دول كفري واستكباري هيچ فيصله ونظريه، جامه، عمل نپوشيده وهرگز نافذ نمي شود وما از بدو، تاسيس اين سازمان تا اين زمان چنان فيصله، عادلانه ومنصفانه اين سازمان را درقبال مسايل جهاني وبويژه بسطح امت اسلامي نديده ونه شنيده ايم بلكه برعكس ملل متحد همواره دراتخاذ تصاميم وتصاويب ودعاوي كشورهاي كوچك . اقليت ها وممالك اسلامي را طرف « محكوم» قرارداده وظالمانه منشور خودرا برآنها تحميل نموده است كه شاهد اين عكس العمل ها قضيه، اسلامي ملت مسلمان ومظلوم فلسطين ، جنبش هاي اسلامي اخوان المسلمين درمصر وسركوب نمودن اين حركت توسط حكام ومزدوران استعمار ، قضيه، اسلامي مجاهدين كشمير ، اريتريا ، فلپين ، الجزاير ومجاهدين افغانستان است . .

ملل متحد كه درواقع ممثل وبيانگر عزايم ، اهداف وپلانهاي كفري واستعماري قدرت هاي شيطاني است ازسال ۱۹٤۵م تا اكنون درخدمت چند بلاك استعماري كه فوقاً ازآنها نام برديم بوده وميباشد ودرست از آغاز تشكيل اين سازمان تا اكنون ملل متحد نتوانسته است دريكي ازكشورهاي

عبدالرقيب « جهيد »

جهان تدابير حاصله امني ، عدل ، انصاف وعدم تجاوز واحترام بحقوق وسرنوشت ملت ها ودولت ها ونهضت هاي اسلامي را مراعات نمايد .

بلكه درامر سركوبي جنبش هاي اسلامي وآزاديخواه به اشاره، چشم امريكا وروس وديگر همپيمانان شان صداي آزاديخواهان را درگلو خفه نموده وبراي يك روز هم درجهان اقامه نظام اسلامي را تحمل نميتوانند و آشكارا به خصومت وعداوت هميشگي خود عليه اسلام عزيزومسلمانان جهان ادامه ميدهند .

بلي ! اين مجمع به اصطلاح شوراي امنيت جهاني است كه عملكردهايش صدفيصد مخالف ومتضاد با نام وعنوان اين مؤسسه است !!!

طوريكه گفتيم گرداننده، چرخ شيطاني وحركات طاغوتي اين سازمان بدست كشورهاي متنفذ كه درجهان بصفت ابرطاقت ها تبارز نموده اند بحركت مي آيد كشورهاي عضو دايمي ملل متحد حق ويتو را دارند وقرار صلح وجنگ را امضاء مينمايند ولوكه درحق ملتي ظلم وهتك حرمت ودخالت به امور داخلي وسرنوشت آنان صورت گيرد ...

ملل متحد كه همه تصاويب وفيصله هايش خلاف موازين عدل وانصاف ومخالف حقوق وكرامت بشري ومنافي اصول اساسي شريعت اسلامي است به هيچ صورت پذيرش آن برمسلمانان جهان التزامي نبوده ومسلمانان حق دارند ازحقوق حقه وآزادي وسرنوشت فرد ، جامعه وحدود ثغور خود بدفاع ومقابله برخيزند وپذيرفتن فيصله ها وقرارها بين المللي درواقع تسليم شدن به مليت يهود ونصاري ومفكوره، استعماريون است درحاليكه قرآن حكيم به منطق رسا اعلان ميدارد :

ترجمه « هرگز راضي نمي شود ازتو يهود ونه نصاري تا آنكه پيروي نكني ازمليت آنها »

راستي هم كه اعضاء دايمي واصلي اين مؤسسه همه، ايشان يهود ونصاري اند وصابيان « لادينان» ودهريان نيز درآن مجمع است .

قبلاًسرديبرملل متحد كوئيار ونماينده، ويژه، آن كوردوويز بود كه درقبال مسئله افغانستان وبه اصطلاح حل سياسي معضله تلاش هاي مذبوحانه نمودند درحاليكه سرمنشي ونماينده، آن اصلاً مسلمان نبوده، وبه مليت هاي يهودو نصاري وحامي افكار ونظريات صهيونيزم بين المللي انتساب وتمايل داشتند كه در رأس آنهاروس وامريكا آنرا بازي مينمود اكنون « بطروس غالي » كه ازطرف كشورهاي عضو ملل متحد بحيث سرمنشي اين سازمان انتخاب گرديده است آيا فكر مي كنيد كه موقف ملل متحد با عوض شدن چهره ها در مشي وپاليسي اش تغيرات مثبت بعمل مي آيد ؟ : جواب منفي است به اصطلاح همان كاسه وهمان آش است و در زير كاسه نيم كاسه اي است - دشمني ملل متحد درقبال مسئله اسلامي وقضيه، جهادي ملت مسلمان افغانستان كماكان استمرار دارد وهدف ومفكوره، اسلام دشمن واستكبار گرنه، اين سازمان عوض نگرديده است .

(بنين سيوان) نماينده، خاص بطروس غالي مسيحي است اوميخواهد با تحكيم روابط ديپلوماسي به كشورهاي عضو وقبولاندن طرح پنج فقره يي سازمان ملل متحد كشورهاي همسايه، ما (ايران وپاكستان) را وادارد تا ازين طرح حمايت وپشتيباني نمايند طوريكه بنين سيوان جهت برآورده شدن اين مأمول مسافرت هايي را درگذشته هم بعمل آورد وبه ايران - پاكستان ورژيم كابل بمذاكره وتفاهم پرداخت مگر ازآنجائيكه انقلاب اسلامي افغانستان ديگربه مرحله، نضج وتمركز قاطعيت عالي خود اوج ميزند وهمچو افكار وزدوبند ها بجز از ضياع وقت وتلاش هاي بي ثمر چيزي ديگر تحويل نميدهد ومواضع مستحكم سياست اسلامي وقاطعيت قيادت هاي جهادي با

ح س

په نایجیریاکښې دمبارزومسلمانانو ورځ په ورځ ځواکمن کیدل

داسلامي حرکتونو دټکولو لپا ره د صهیونیستانو هلې ځلې

محمد نصير « مدثر »

په تيره ګڼه کښې مو په نايجيريا کښې داسلامي حرکتونو په تاريخي پس منظر باندې رڼا واچوله او دهغې په ترڅ کښې مو داسلامي ځواکونو په مقابل کښې داستعمار توطئې په مختصر ډول تشريح کړې . په دې ګڼه کښې غواړو چې په اوسني دور کښې دنايجيريا دمسلمانانو وضعې او ددغه هيواد دلاس پوڅي رژيم په مقابل کښې داسلامي تحريک دپلويانو مبارزو ته يوه لنډه کتنه وکړو . دنايجيريا په شمال کښې اسلامي خوځښتونه هغه وخت ځواکمن او ګړندي شول چې د «فون تايمز» په نامه يوې مجلې داسې مقاله اوعکسونه چاپ ته ورسول چې په هغو کښې دحضرت محمد (ص) سترمقام ته توهين شوی و . دغې مسئلې دمسلمانانو ديني او اسلامي احساسات راوپارول اود ۱۹۹۱ ميلادي کال داپريل په ۱۹ نيټه دنايجيريا دهيواد له ګوټ ګوټ نه يوزيات شمير مسلمانان دنايجيريا په شمال د «کاتسينا» په ښار کښې راغونډ شول او ددغه اسلامي ضد عمل په وړاندې يې خپله کرکه څرګنده کړه . مظاهره کوونکو چې شمير يې له ۲۰ زرو تنو نه تجاوز کاوه وروسته له هغه چې دجمعې لمونځ يې د«کاتسينا» ښار په مرکزي جومات کښې ادا کړ دښار داصلي سړکونو په لورې يې يوسترلاريون پيل کړ . مظاهره کوونکو چې په خپلوتنظيمي سور بخوندي توګي ترلي وې اويوشمير ليکل شوي لوحې يې ځان سره وړلې ، داطلاعاتو دوداني په وړاندې راغونډ شول اوځينې شعارونه لکه «الله اکبر» «مرګ دې وي دکاتسينا په پوځي واکمن باندې ، مرګ زموږ لپاره وياړدی اوموږ له هغه نه ويره نلرو» او ... يې ورکړل مظاهره کوونکو په داسې حال کښې چې د فون تايمز مجلې ودانۍ ته يې اور واچوه داسلامي حکومت د اقامې غوښتونکي شول» ابراهيم زاکزاکي «د يومطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کښې اعلان وکړ : «دا ديوه اسلامي قيام پيل دی او زموږ هدف دبرياليتوب په لورې دی . اوسني حرکت چې موږ يې په خپلو سترګو وينو ديو اسلامي هيواد دجوړولو لپاره پرمخ دروسي دلګه ، هغه څه چې بايد په دغې خاوره باندې حکومت وکړي هغه قرآن اوالهي قانون دی ، نه دغه استعماري قانون ، نايجيريا بايد دقرآن په اصولو سره اداره شي او اسلامي قوانين بايد ددولتي قوانينو ځاي ونيسي»

دنايجيريا داسلامي چارو عالي شورۍ چې په حقيقت کښې دهيواد ډير مهم سياسي اوديني رسمي سازمان ګڼل کيږي په سرکښې يې په دولت پورې يو پيلی شخص دچارو واګې په لاس کښې لري . دمسلمانانو له ذکر شوي مظاهري نه مخکښې ددغې شورۍ غړيو هيڅکله داسلام له واقعي اوحقيقي محتوې نه بحث نه کاوه . خوکاتسينا له پيښو اوبيا د « باتوچي » په ولايت کښې له ديني نښتو نه وروسته ددغې شورۍ په دريځ کښې يو څه فرق راغی او دمسلمانانو په ګټه يې جهت نيولی دی . دشورۍ غړيو په « ابي کوتا » کښې په خپلې وروستي غونډه کښې چې له ورستيو ديني خوځښتونو نه وروسته جوړه شوې وه ، دهيواد له پوځي حکومت نه وغوښتل ستغي وينا په ترڅ کښې وغوښتل چې دحضرت محمد (ص) دشخصيت او سترمقام دبې حرمتي دمسئلې په مطلوبه توګه تحقيق وکړي همدا راز اعلان يې وکړ چې دنايجيريا مسلمانان له کلونو کلونو راهيسې ددغه هيواد په ټولو ولايتونو کښې دصحيح اسلامي شريعت داجراء په تکل کښې دي اوهغه دخپلو ځانونو لومړني او اساسي حقوقو په توګه تلقي کوي . په کاتسينا او باټو چې دمسلمانانو له دغه حرکت نه چې ديو زيات شمير مسلمانانو په نيولو منجر شو ، د ۱۹۹۱ ميلادي کال داکتوبر په ۱٤ دکانو په ښار کښې هم يوه پراخه مظاهره په لاره واچول شوه . په دغې ورځ تقريباً يو مليون مسلمانان داختر لمانځه اداکولو په محل کښې سره راغونډ شوي ؤ او دخدای د رضا لپاره يې دوه رکعته لمونځ اداکړ . دمسلمانانو مشرانو له جملې نه يو تن راغليو خلکو ته وينا وکړه او بيا وروسته يې په ګډه سره دکانو دامير دکور په لور حرکت وکړ او په دې توګه يې دمسيحيت دپراخو تبليغاتو څخه مخنيوی وشو او ديوه الماني پادري دبيانيې په وړاندې يې اعتراض وکړ . دلارې په اوږدو کښې مسيحي افراد له هغو سره په جګړه شول چې ديوځياتو په مداخلې سره دغه نښته پای ته ورسيده خو بيا هم له دوارو خواو نه ۳۰۰ تنه ووژل شول .

په دغو مظاهرو کښې يو شمير دولتي او ديني ودانۍ ورانې او دتيلو څو پمپونو ته اور واچول شو . دروان کال دجدي دمياشتې په ۱۵ چې دمسلمانانو له خوا کومه مظاهره د کاتسينا «په ولايت کښې په لاره واچول شوه ، په هغې کښې ۱۰ تنه مسلمانان دپوليسو دتشدد په نتيجه کښې ووژل شول او ۲٦۳ تنه نور يا ټپيان او يا هم ونيول شول . ددغې مظاهرې اولاريون په هکله تر اوسه کافي معلومات نه دي خپاره شوي خود پوليسو خبر ځايونو دغه خوځښت بنسټ پالنه ويللې . په نايجيريا کښې داسلامي حرکتونو سابقې او موجوده شواهدو ته په توجه سره ويلای شو هغه څه چې دنايجيريا دمسلمانانو

ح س

ايادافغانستان مسلمان ملت به ديوه بيطرفه دولت په جوړيدو راضي شي ؟

محمد داؤد « بهار »

ثن ګورچي د بنين سيوان کوششونه يوازې اويوازې ددې لپاره جاري دي چې په افغانستان کې يو بيطرفه دولت جوړ کړي ترڅو د روس او امريکې ګټې زموږ په هيواد (افغانستان) کې خوندي وساتي اوزموږ دهيواد له اقتصادي اوسياسي مسيرونه د تل لپاره ښکېلاکګر ځواته ګټه واخلي .

له بلې خوا د نجيب اوسنۍ هلې ځلې اوتش په نامه د سولې د نغارې ډنګول هم په حقيقت کې داسې سياسي چالونه دي چې د روسانو لخوا ديږدې ترشا طرحه کيږي اوپدې توګه نجيب اوبادران يې زموږ دمظلومو هيوادوالو اوپه مجموعي توګه د ټولو نړيوالو په سترګو کې خاورې اچوي اوځان د سولې طرفدار معرفي کوي . خوحقيقت دادې چې لر په دوه ګوتونه پټيږي اوهغه داسې که روسان اودهغوی لاسپوڅي په هراندازه ځانونه د نړيوالو په وړاندې پاك وښيي خو بياهم ځانونه له هغو جناياتو چې په افغانستان کې يې د صلحې اوبشر دوستي په نوم کړي اولاهم چې کوي نشي پاکولي اوهغه ځکه چې د روسانو استعماري لاسونه لاتراوسه د افغانستان د مظلوم اومسلمان ملت په وينو داسې سره دي چې د ابد لپاره به يې رنګ لاړنشي .

هوا افغانۍ مسلمانانو دايې شميره ځاني اومالي قرباني ددې لپاره ندي ورکړې او نه يې ورکوي چې په افغانستان کې د روس او امريکې په خوښه بيطرفه دولت جوړکړي بلکه دې ملت (د افغانستان مسلمان ملت) دا قرباني يوازې ددې لپاره ورکړې اولاهم ورکوي چې په افغانستان کې د کفر ، الحاد ، ظلم ، تيری او تجاوز لمنه د ابد لپاره ټوله شي اوپه ځاي يې مجاهدين اسلامي دولت جوړ کړي نه دا چې د بري په وروستني درشل کې خپلې واقعي سربښندنې د يوه بيطرفه ملت په بدل قربان کړي .

دايوه واقعي خبره ده چې حق اوباطل د تاريخ په اوږدو کې نه سازش کړی اونه به يې وکړي اوتل ددې متضادو قطبونو (حق اوباطل) ترمينځ ټکرونه ځکه واقع شوي چې دحق د ليارې اتلانو تل د الله (ج) بندګان داسې لورې ته دعوت کړي چې هلته يې د دنيا او آخرت سعادت له ورايه ښکاري حال داچې په باطلو اديانو کې د انسان لپاره د سعادت په ځاي د خسران زيږي ورکول کيږي ، نو لدې ځايه ويلی شو چې په اسلامي ټولنه کې بيطرفه دولت هيڅ معنی نه لري که بيايې معنی وڅيړونو هغه دولت به داسې يو فرمايشي دولت وي چې د نورو په دستور به په افغاني مسلمانانو تحميليږي اوخپل ټول دستورات به لکه د نجيب دولت له روسانو او امريکايانو نه اخلي اوترهغه وخته به لکه د ماشين يوه پرزه کار کوي چې دخپلو بادراتو دستورات اوغوښتنې په ډير اخلاص عملي کړي خرچې کله په قصدي يا ناپوهي سره دخپلو خارجي باداراتو بد امرونوته سرغړونه وکړي هلته به بيا د فرمايشي کودتا ګانو په اساس سياسي نظام د يوه غلام په ليرې کيدو او د بل غلام په رامينځ ته کيدو تغير مومي اود ابد لپاره به دا پروسه جاري وي اولدې سره جوخت به زموږ د هيوادوالو سياسي او اقتصادي آزادي هروخت لکه د روس په شان د نورو لخوا تحديديږي اوزموږ د ټولنې له اقتصادي اوسياسي مسيرونه نور ګټې ترلاسه کړي .

دلته د هر مسلمان ايماني دنده داده چې د برياليتوب پدې وروستي پړاوکې چې له يوې خوا په نړيواله سويه روسان مات شوي اوله بلې خوانه يې په کابل کې غلامان هم د مجاهدينو د حملو تاب نه لري ورځکا نشي اوله هيڅ چا سره بايد د بيطرف دولت په جوړيدو راضي نشي او هغه ځکه چې په افغانستان کې بيطرفه دولت د افغانستان د مسلمان ملت لپاره د شرم ځاي دي اوپه حقيقت کې د آينده نسلونو لپاره د يوه مکروب پيداکول دي چې ژر به يې له سرايت نه زموږ راتلونکي نسلونه لکه زموږ پشانه وېنې اوپه راز ، رازکړاوونو به اخته کيږي .

دلته بايد له ډيرې زيرکي اواحتياط نه کار واخلو اوخپل قدمونه پدې حساسو شيبوکې په احتياط سره پورته کړو ، بايد

ح س

پلان هاي شيطاني عليه جهاد اسلامي ما

عبدالرازق ونابلپاره

کشورهاي استعماري غربي علي العموم وکشورهاي وابسته واجيرآن علي الخصوص به هيچوجه نميخواهند که نهضت هاي اسلامي جهان منحيث يك بلاك اسلامي درآينده، قريب تبارز نمايند . لهذا امروز که جهاد ملت مؤمن افغانستان آخرين لحظات پيروزي اش را غرض نايل شدن بيك نظام اصيل اسلامي طي مينمايد ، دسيسه ها ونيرنگ ها ي استعماري جهان مخصوصاً دسيسه هاي ماهرانه، امريكا واجيران شان دامنگير اين جهاد مقدس گرديده است . اين بخاطر آن است که آنها اصلاً نميگذارند که يك نظام مطلقه، اسلامي جانشين رژيم کفري وطاغوتي کابل گردد ، لهذا به فکر واندیشه، آنها بايد جانشين نظام فعلي کابل را يك نظام مختلط و وسيع البنياد که ظاهراً شخصيت هاي نامطمئن و وابستگان احزاب غير اسلامي مقيم کشورهاي غربي ، کمونستان کابل درآن شامل باشد احتوا نمايد ومجاهدين مسلمان را درين مثلث نيز سهم تسبي داده اند .

بدين وسيله بايد تذکر داد که فعاليت هاي نماينده، خاص ملل متحد بنين سيوان که دراين اواخر بادرنظرداشت برنامه هاي تازه اي آغاز گرديده نمايانگر حقيقت مذکور شده ميتواند . لهذا موصوف اولاً خواهان تشکيل يك مجلس مقدماتي شخصيت هاي اعتدال پسند افغاني بوده تا ازاين طريق براي تشکيل حکومت موقتي آينده، افغانستان مطابق برنامه هاي امريکا ومتحدين غربي آن زمينه سازي نمايد .

هرچند عصر ظاهرشاه درافغانستان خاتمه يافته وشخص وي هرگز نميتواند که در آينده افغانستان نقشي داشته باشد ، لهذا رفت وآمدهاي اشخاص وحلقات معلوم الحال که ميخواهند ظاهرشاه را بخاطر برگشت بوطن واداز سازند ، يك عمل شايسته وقابل قبول براي ملت رنج کشيده، افغانستان نبوده ونخواهد بود ، بدين ملحوظ ميتوان گفت که به تعقيب برگشت احتمالي ظاهرشاه به افغانستان اين جهاد مقدس متعاقباً عليه او وهم قطاران وي گرم ترخواهد شد وبه اين ترتيب ظاهرشاه، ورفقاي خاص وي هريك جوابگوي عملکرد هاي گذشته، خويش درداخل افغانستان خواهند بود و بمحاکمه، جنايات تاريخي شان کشانيده مي شوند .

درحاليکه طراح نظام هاي مختلط ووسيع البنياد درمجموع کشورهاي غربي اند ، اما اينچنين نظام ها خلاف آرمان واستراتيژي نيرومند مجاهدين افغانستان بوده ومي باشد ، لهذا به هيچوجه براي ملت رنج کشيده، افغانستان قابل قبول بوده نميتواند وبه اين ترتيب ازطرف مجاهدين ومهاجرين افغانستان بکلي مردود است .

بايد يادآورشد که اگر اين چنين نظام هاي تحميلي ازطرف عناصر ضعيف نيروهاي جهادي قبول گردد وسايرين در زمينه مستنکف باقي بمانند درآنصورت چه واقع خواهد شد ، يقيناً ميتوان گفت که وضع بدتر ازاين حالت خواهد بود ، زيرا درآنصورت باوصف آنکه قواي حافظ صلح ملل متحد ناظر وکنترولو صحنه، انتخابات افغانستان خواهند بود ، هرشخصي که درانتخابات برنده گردد ازطرف ديگران مردود شمرده خواهد شد ، لهذا فرضاً درحاليکه قواي ملل متحد درافغانستان باقي خواهند بود از افغانستان لبنان دوم ساخته خواهد شد . بناً نظام هاي مختلط و وسيع البنياد که داراي بنياد شرعي و اسلامي نيستند ، هرگز براي ملت مؤمن افغانستان قابل قبول شده نميتواند .

قضيه، افغانستان ميتواند که ظاهراً دراغتشاش ودرگيري هاي کمبوديا باهم مطابقت داشته باشد ، نه دراهداف واستراتيژي شان ، لهذا اگر نجيب به اين فکر واندیشه باشد که جريانات واقع شده، افغانستان با کمبود يا صد درصد مطابقت دارد وشايد روزي مانند کمبوديا ازطريق ملل متحد اين مسئله حل گردد اشتباه مي نمايد ، زيراکه جهاد ومبارزه، مردم افغانستان انگيزه، اسلامي داشته وبنياد حقيقي آنرا عقيده، اسلامي آنها احتوا مينمايد نه کدام عقيده، مزخرف کمبوديايي .

گرچه نجيب اين مسئله را درکابل تايم نشريه، رسمي حزب حاکم چنين منعکس ساخته که نامبرده به شخصي بنين سيوان اين مسئله را واضح کرده که رژيم کابل نيز درپروسه صلح آن کشور نقش خواهد داشت ، اما درمقابل به صراحت بايد گفت که يگانه مانع عمده در راه تحکيم صلح اين کشور همانا موجوديت رژيم دست نشانده وتحميلي کابل بوده ومي باشد نه کدام چيز ديگر ، لهذا بايد درقدم اول بقاياي کمونيزم را ازصحنه دور ساخته شوند وبعداً بخاطر تامين صلح وامنيت درکشور زمينه سازي گردد .

تلاش ها ونقشه هاي ...

شناخت هويت اصلي کارگردانان مستکبر جهاني وماهيت ملل متحد رد العمل شديد خودرا دربرابر فيصله هاي ظالمانه ومستعمرانه، اين سازمان صراحتاً تبارز دادند وطرح وپاليسي استکبار جهاني را درمورد قضيه، اسلامي وسرنوشت ملت مجاهد ومهاجر افغانستان خيانت وجنايت تلقي کردند ودرواقعيت امر توافقات وتصاويب ملل متحد به خير وصلاح جوامع اسلامي وقضيه، ملت مجاهد افغانستان وقضاياي عالم اسلام نبوده واساساً وبنياداً رد ومرفوض است ومادر برابر تحاکم الي الطاغوت نبايد خاموشي اختيار کنيم وازحقوق شرعيه وسرنوشت عامه، مسلمانان جهان وبخصوص ازدست آورد هاي سيزده سال جهاد ومبارزه ملت بخون خفته وشهيد پرور خود ايماناً بدفاع وجانبداري پردازيم .

ماتعجب ميکنيم که گردانندگان سياست شيطاني بين المللي چرا با اين گونه ديده درآيي ها براي ما حکومت فرمايشي خودرا عنوان ميکنند وتحت پوشش اين حکومت مبتذل به حل سياسي مسئله افغانستان سرعت عمل مي بخشند که تشکيل حکومت توريدي ازخارج وسهم دادن رژيم مرتد وظالم نجيب ، غربيان ودشمنان جهاد جفا وجنايت است .اگر واقعاً ملل متحد خواهان حل اسلامي مسئله افغانستان باشند وطرفدار صلح ورفاه بشريت اند بگذارند ملت مؤمن ومجاهد افغانستان خود در مورد سرنوشت کشور ونظام دلخواه خود که مدت سيزده سال در راه حصول آزادي واقامه، نظام عدل الهي بخون شنا کرده اند وتقريباً شانزده لك شهيد را درين آرمان قرباني داده اند تصميم بگيرند ومي بايد نمايندگان اصيل ملت مجاهد را در تمام اجلاسيه ها بداخل تالار کنفرانسهاي سازمان ملل متحد حق اشتراك ميدادند تا ازحقوق حقه، اسلامي وجهادي مادر برابر انظار عامه حرف مي زدند واهداف وآرمان وخواست اين ملت مظلوم وستمديده را درين مجمع منعکس مي ساختند هرگاه ملل متحد چنين حقي را براي ملت افغانستان قايل نيست ما نيز عقيدتاً وسياستاً مخالف طرحها وفيصله هاي اين سازمان هستيم واين حق مسلم ماست که مخالف باشيم ملتي که دربرابر ظلم وتجاوز ووحشت قيام کرده ودر راه سرنوشت وآزادي اسلامي سرزمين خود بزرگترين ريکارد قهرماني را درجهان قايم نمود پس ملل متحد روي کدام مجوزه حق آنرا دارد که برسرنوشت جهاد وقضيه اسلامي ماکه به هيچ صورت اهليت . ولايت وتصرف وتوکيل آن را ندارد جسورانه اتخاذ تصميم مينمايد درحاليکه تحاکم وتصاويب آنها غير عملي وهيچ راه تطبيق را ولوکه عادلانه هم باشد برمسلمانان ندارند خداوند جل جلاله باين مفهوم ارشاد ميدارد « وهرگز نگردانيده خدا مرکافران را بالاي مسلمانان حاکم وکنترولي » يعني به هيچ راهي کفار حق حاکميت وولايت را برافراد جامعه اسلامي ومسلمين جهان ندارند . واين سياستي است ثابت ، قاطع واصولي که براساس آن ما هيچ التزام برقبول مزامره، طواغيت بين المللي نداريم وطراحان سازمان ملل متحد يا درملیت يهود ويا نصاري داخل اند ويا اصلاً هيچ دين وآئين ندارند ودهريان اند بهرحال حکم وفيصله، آنها مردود ومرفوض است .

بنين سيوان باز دردور مذاکرات خودرا ازسرگرفته وتازه بمسافرتهاي استعمارگونه خود وارد اين کشور وآن کشور مي شود واکنون دروازه پاکستان را دق الباب زده وپيام نحس وعفون خودرا باز روي دست گرفته وتقديم مقامات پاکستان مينمايد ، مايدين باوريم که تا الحال به توفيق ونصرت خداوند کارساز ومسبب الاسباب جهاد ما ازگزند سياست طواغيت درامان مانده وچنانيکه طاغوت سرخ جهان درصحنه، مقابله به ناکامي وشکست ورسوايي مواجه شد طاغوت سياه وحلقات مزدور استعمار هم دربرابر پايمردي ، ثبات ، قاطعيت واستقامت مؤمنانه ما مغلوب مي شوند واسلام عزيز باوصف دشمني هاي ديرينه کفار واستعمارنوين پيروز وغالب درجهان حاکميت ميکند .
